مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی
د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**شماره: ۱۳۹** (از ۲ الی ۹ عقرب ۱۳۹۴ هـ ش)

**این نشریه مجموعۀ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی و اقتصادی هفته‌وار است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار از آن استفاده نمایند.**

---

## آنچه در این شماره می‌خوانید:

- مقدمه ........ ۲

### امریکا ته د نوازشریف سفر او افغانستان

- د سوېلي آسیا په اړه د امریکا بهرنی سیاست........ ۴
- د امریکا-پاکستان رغېدونکي اړیکي........ ۴
- د سولې پروسې د بیا پیل لپاره د پاکستان لېوالتیا........ ۵
- افغانستان او هند ته د دغه سفر ارزښت........ ۷

### اروپا و مشکل پناهجویان افغان

- ارقام‌سرسام‌آور پناهجویان........ ۹
- آلمان مقصد اکثر پناهجویان........ ۱۰
- نیاز به کارگر ارزان........ ۱۰
- مشکل فرهنگی........ ۱۱
- مهاجرین افغان در اروپا........ ۱۱

## مقدمه

امریکا ته د پاکستان د لومړي وزیر نواز شریف په څلور ورځني سفر کې د پاکستان او امریکا د اړیکو پر موضوع سربېره، د افغانستان امنیتي وضعیت او د افغان سولې بهیر هم د پام وړ مسائل وو. د پاکستان لومړي وزیر یو ځل بیا په د افغان طالبانو او افغان حکومت ترمنځ د روغې جوړې په پروسه کې د منځګړیتوب خبره وکړه؛ خو دا ځل یې د طالبانو ځېل او د روغې جوړې مېز ته کېنول، په هممهاله ډول ناشونی کار وباله.

د نواز شریف وروستیو څرګندونو یو ځل بیا د دواړو هېوادونو پر اړیکو سیوری وغوړاوه. دا چې د نواز شریف دغه سفر د سیمې لپاره او په تېره بیا افغانستان او هند لپاره څه پیغامونه درلودل، دلته پرې شننه لولئ.

د تحلیل په دویمه برخه کې له تېرو څو میاشتو راهیسې اروپا ته د افغانستان په ګډون د یو شمېر جګړهځپلو آسیایي هېوادونو د بېمخینې کډوالۍ په اړه لولئ. د روان میلادي کال له پیل راهیسې تر ۵۰۰ زره زیات کډوال اروپا ته رسېدلي چې په دې منځ کې له سوریې راوروسته ډېره برخه افغانان دي. د راپورونو له مخې تراوسه شاوخوا ۱۲۰ زره افغانانو اروپا ته ځانونه رسولي، چې ډېری یې په آلمان کې د پناه غوښتلو په تکل اروپا ته تللي دي. آلماني چارواکو تېره اوونۍ وویل، چې افغانان به بېرته خپل هېواد ته ستانه کړي او په دې اړه یې له افغان چارواکو سره خبرې پیل کړې دي، مګر لا څرګنده نه ده چې د دغو افغان کډوالو برخلیک به په کوم لوري ځي.

د اوونۍ تحلیل په دې ګڼه کې د همدغو موضوعاتو په اړه د ستراتېژیکو او سیمهییزو څېړنو مرکز د څېړنیزې څانګې شننې او څېړنې لولئ.

# امریکا ته د نوازشریف سفر او افغانستان



د پاکستان لومړی وزیر نواز شریف د اکتوبر په ۱۹مه په یوه څلور ورځني سفر واشنګټن ته ولاړ او هلته يې د امريکا له ولسمشر سره د افغانستان د امنيتي وضعيت او سولې پروسې، د پاکستان داخلي وضعيت او له هند سره د پاکستان پر اړيکو خبرې وکړې.

نواز شريف امريکا ته د خپل دغه دويم رسمي سفر په جريان کې، د امريکا په يوه تحقيقاتي مرکز کې هم وينا وکړه او په يوه برخه کې يې وويل: «موږ د افغانستان ولسمشر اشرف غني ته ويلي، چې پاکستان چمتو دی چې د سولې تم شوې پروسه بيا پيل کړي؛ خو دوی نه شي کولای چې طالبان هم ووژني او هم يې د سولې مېز ته حاضر کړي.»

امريکا ته د نواز شريف وروستی سفر د سيمې د دوو هېوادونو افغانستان او هند لپاره د پاملرنې وړ و. دا چې دغه سفر د سيمې پر وضعيت او په تېره بيا له پاکستان سره د افغانستان او هند پر اړيکو څه اغېزې ښندلی شي دلته يې څېړو.

## د سوېلي آسیا په اړه د امریکا بهرنی سیاست

له دویمې نړیوالې جګړې وروسته، د سوېلي آسیا په لور د امریکا پاملرنه زیاته شوه او د سوېلي آسیا په تړاو یې د امریکا د پخواني ولسمشر ټرومین تګلاره غوره کړه. د سړې جګړې پر مهال، په سوېلي آسیا کې د امریکا پاملرنه د پاکستان-هند د دوو جګړو، د هند-چین جګړې او بیا د افغانستان د قضیې له کبله زیاته شوه. له سړې جګړې وروسته هم، امریکا په خپل بهرني سیاست کې د "تروریزم" او "سختدریځۍ" تر نامه لاندې دغې سیمې ته زیات ارزښت ورکړ او په تېره بیا له ۲۰۰۱ کال راهیسې، امریکا د دغې سیمې په یوه برخه (افغانستان) کې بشپړ پوځي حضور هم لري.

په ۲۰۰۹ کال کې په امریکا کې د بارک اوباما له ولسمشر کېدو سره د امریکا پاملرنه یو ځل بیا داسې مهال د دغې سیمې په لور ډېره شوه، چې له ۲۰۰۳ کال وروسته یې په منځنی ختیځ کې هم پوځي حضور درلود. په ۲۰۰۹ کال کې اوباما اعلان وکړ، چې افغانستان ته به ۳۰ زره اضافي سرتېري واستوي. په ۲۰۱۱ کال کې د امریکا د بهرنیو چارو وزیرې هیلري کلنټن د (Rebalancing Asia) یا د (Pivot to Asia) په نامه یوه تګلاره هم اعلان کړه. هغې د فارن پالیسي ژورنال په یوه مقاله کې ولیکل: «لکه څرنګه چې په عراق او افغانستان کې د امریکا جګړه په ختمېدو ده، نو امریکا په یوه مهم موقعیت کې ده. په تېره یوه لسیزه کې امریکا خپل ډېری وسایل دغو دوو جګړو ته ځانګړي کړل؛ خو په راروانو لسو کلونو کې اړینه ده، موږ هوښیار واوسو او خپل وخت او انرژي په یوه سم ځای کې مصرف کړو، ترڅو زموږ رهبري، ګټې او ارزښتونه خوندي شي.»[1]

له ۲۰۱۱ کال وروسته د امریکا پاملرنه ورو ورو د سوېلي او ختیزې آسیا په لور شوه. له همدې ځایه ده، چې امریکا په سیمه کې له جاپان، هند او استرالیا سره نږدې اړیکې پالي، ترڅو د چین پورته کېدونکی اقتصادي ځواک مهار کړي.

## د امریکا-پاکستان رغېدونکې اړیکې

د نوازشریف له وروستي سفر مخکې، د پاکستان د اټومي وسلو په اړه د تشویشونو خبره هم کېده؛ ځکه ویل کېږي چې په نړۍ کې د بل هر هېواد په پرتله پاکستان ډېرې اټومي وسلې جوړوي. د نیویارک ټایمز ورځپاڼې

[1] See online: http://foreignpolicy.com/2011/10/11/americas-pacific-century/

د یوه راپور له مخې، د اوباما اداره د یوې داسې معاملې په اړه غور کوي چې هدف یې د پاکستان د اتومي وسلو محدودول دي او د نواز شریف له سفر وړاندې، په واشنګټن کې په دې اړه بحثونه روان وو.[2] همدا لامل و، چې نواز شریف له دغه سفر مخکې په خپلو څرګندونو کې دې ټکي ته اشاره وکړه او ویې ویل، چې پاکستان په اتومي وسلو یو سمبال هېواد دی او د اتومي وسلو امنیت یې بشپړ خوندي دی.

امریکا له تېرو دوو کلونو راهیسې په پاکستان کې د حقاني شبکې، طالبانو او لشکر طیبه ډلو د حضور له کبله پر پاکستان ډېرې نیوکې وکړې او څو ځله یې له پاکستان سره د خپلو کلنیو مرستو د بندولو ګواښونه هم وکړل. د دې ترڅنګ د امریکا د نړیوالو ګټو له کبله د واشنګټن اړیکې له ډهلي سره هم ډېرې نږدې شوې. د ۲۰۱۵ کال په جنورۍ میاشت کې د امریکا ولسمشر هند ته رسمي سفر درلود او بیا د همدې کال په سپټمبر کې د هند لومړی وزیر نارېندرا مودي هم واشنګټن ته په یوه رسمي سفر ولاړ، چې دغو دواړو سفرونو بیا د امریکا او هند اړیکې نورې هم نږدې او تودې کړې.

د امریکا ولسمشر بارک اوباما د پاکستان لومړی وزیر نواز شریف ځکه په اوسني وخت کې امریکا ته وروغوښت، چې د ډهلي-واشنګټن د نږدې کېدونکو اړیکو له کبله د اسلام‌آباد او واشنګټن اړیکې ښې کړي. له همدې امله امریکا پاکستان ته د ایف شپاړس جنګي الوتکو د ورکولو او په نورو برخو کې د همکارۍ ژمنه هم ورکړه.

## د سولې پروسې د بیا پیل لپاره د پاکستان لېوالتیا

امریکا ته د نواز شریف سفر له دې کبله هم ارزښت درلود، چې دی امریکا ته داسې مهال ولاړ، چې په افغانستان کې د امریکایي سرتېرو د پاتې کېدو پر نوي پلان ایله یوه اوونۍ تېره شوې وه. د دې ترڅنګ د اوباما او نواز شریف د خبرو اترو د اجنډا یوه مهمه برخه هم د افغانستان د امنیت او سولې پروسه وه، چې دا مسئله د پاکستان او امریکا په ګډه اعلامیه کې هم منعکسه شوه. دوی په ګډه اعلامیه کې وویل: «دواړو مشرانو د افغانانو په مشرۍ، د افغان طالبانو او افغان حکومت ترمنځ د سولې د خبرو اترو پرمختګ ته ژمنتیا څرګنده کړه او ترڅنګ یې پر طالبانو غږ وکړ، چې له افغان حکومت سره خبرو ته کښېني او د دایمي سولې لپاره خبرې وکړي.[3]»

[2] See online: http://www.pashtovoa.com/content/pashto-nawaz-sharif-to-visit-us/3009747.html

[3] See online: https://www.whitehouse.gov/the-press-office/2015/10/22/2015-joint-statement-president-barack-obama-and-prime-minister-nawaz

د دې ترڅنګ د ګډې اعلامیې له مخې، نواز شریف د امریکا ولسمشر اوباما ته د پاکستان د National Action Plan) په نامه تګلارې له مخې توضیحات ورکړل، چې دوی د طالبانو او حقاني شبکې پرخلاف داسې ګامونه پورته کړي، چې له کبله یې دوی د افغانستان پرضد د پاکستان خاوره استعمال نه شي کړای[4].

نواز شریف د امریکا د سولې په انستیتوت کې هم د خپلې وینا پر مهال د افغانستان د سولې د پروسې په تړاو وویل: «دوی نه شي کولای چې په یوه وخت هم طالبان ووژني او هم یې خبرو اترو ته حاضر کړي. د ده په وینا پاکستان حاضر دی چې د سولې پروسه بیا پیل کړي[5].» خو د نوازشریف دې خبرې په افغانستان کې غبرګونونه هم له ځان سره درلودل او یو شمېر سناتورانو د نوموړي دا خبرې "ټګي" وبللې او ولسمشر ته یې د پاکستان په اړه په خپل وروستي دریځ د دربدو وړاندیز وکړ. یو شمېر شنونکي بیا په دې اند دي، چې پاکستان ځکه په دې خبره کې ربښتینی نه دی، چې نه یې تراوسه طالبان په نښه کړي او نه یې هم د سولې خبرو اترو ته حاضر کړي.

دا لومړی ځل نه دی، چې د پاکستان له خوا د سولې پروسې د بیا پیلولو وړاندیزونه کېږي، اسلام‌آباد د ملا محمد عمر د مرګ له اعلان او په تېره بیا په کابل کې له څو خونړیو پېښو وروسته څو ځله د سولې پروسې د بیا پیلولو په تړاو څرګندونې کړې؛ ځکه که څه هم د ملي وحدت حکومت له جوړېدو سره د کابل-اسلام‌اباد اړیکې بې‌ساري وې، افغان حکومت پاکستان ته ډېر امتیازات ورکړل او له هند سره یې اړیکې د حامد کرزي د دورې په پرتله سړې شوې؛ خو په کابل کې له څو خونړیو پېښو وروسته د اسلام‌آباد په اړه د کابل رسمي دریځ او سیاست بدل شو او کله چې له ملي وحدت حکومت سره د پاکستان ژمنې یوه پر بلې پسې له وخته تېرې شوې، یو ځل بیا دا ثابته شوه چې پاکستان خپل رول تر حقیقي هغه زیات ښیي او کوم څه چې وایي په عملي ډګر کې یې په وس پوره نه دي.

---

[4] د نورو معلوماتو لپاره وګورئ؛ د امریکا او پاکستان ګډه اعلامیه:
https://www.whitehouse.gov/the-press-office/2015/10/22/2015-joint-statement-president-barack-obama-and-prime-minister-nawaz

[5] See online: http://www.usip.org/publications/2015/10/23/pakistan-s-sharif-urges-renewed-peace-talks-in-afghanistan

## افغانستان او هند ته د دغه سفر ارزښت

امریکا ته د نواز شریف له سفر وړاندې د افغانستان ولسمشر اشرف غني په یوه وینا کې وویل: «بله اوونۍ د پاکستان صدراعظم امریکا ته سفر کوي او هلته يې ټینګار پر دې دی چې پناه‌ځایونه باید ختم شي. د طالبانو طرفدارانو ته يې څرګند پیغام دا دی، چې د هغوی د وتلو یوازېنۍ لاره د افغانستان مشروع حکومت سره یوه سیاسي لاره ده»[6].

که څه هم د کابل او اسلام‌اباد ترمنځ له وروستیو بې‌باوریو سره سره، افغان ولسمشر د نواز شریف له دغه سفر سره بیا هیلې وتړلې؛ خو د سفر پایلو او د نوازشریف څرګندونو ته په کتو سره، دا چې د پاکستان ملکي حکومت به د افغان لوري د هیلې وړ ګامونه اوچت کړي، ستونزمنه برېښي.

له بلې خوا په عمومي توګه د بمبيي د بریدونو او په مشخصه توګه له تېر یوه کال راهیسې د پاکستان او هند ترمنځ اړیکې ډېرې خرابې او پر سرحدي سیمو د یو بل پرضد په بریدونو کې ښکېل پاتې شوي دي. همدا راز د پاکستان پوځ د هند پر ضد ډېر سخت دریځ لري، د نواز شریف له واک ته رسېدو سره پوځ نواز شریف ته مشوره ورکړه، چې هند پلوی سیاست خپل نه کړي، که څه هم نواز شریف په لومړیو کې د هند په لور ولاړ خو اوس يې خپل سیاست بدل کړی او تر ډېره د پوځ پر مشورو روان دی. له همدې ځایه ده، چې نواز شریف د پاکستان د ملي امنیت سلاکار سرتاج عزیز لرې او پر ځای يې د پوځ نوی تقاعد شوی جنرال "ناصر جنجوعه" وټاکه.

همدا راز د هند یو شمېر ورځپاڼو او شنونکو هم دغه سفر ته د ډېر ارزښت په سترګه وکتل؛ خو په ټوله کې د هند ډېرې اندېښنې له دغه سفر وروسته راکمې شوې؛ ځکه له یوې خوا د نواز شریف سفر د هند په تړاو ډېرې پاموړ پایلې نه لرلې او له بلې خوا د هند او امریکا اړیکې په سیمه کې ستراتېژیک نوعیت لري او تر ډېره پر پورته کېدونکي چینایي ځواک راڅرخي.

---

[6] امریکا غږ، جمهور رئیس غني د کندز ښار ته ولاړ، ۲۴میزان ۱۳۹۴، په پرلیکه بڼه:
http://www.pashtovoa.com/content/afghanistan-ashraf-ghani-kunduz-security-taliban-us-/3009997.html

# اروپا و مشکل پناهجویان افغان



اروپا با موجی از مهاجرت از شرق مواجه است که بعد از جنگ دوم جهانی چنین جابجایی از انسان‌ها را به خاطر ندارد. مردمی از جنگ، جمعی از ناامنی‌ها و آیندۀ نامعلوم و گروهی نیز به امید فرصت‌های بهتر برای زنده‌گی راه اروپا را در پیش گرفته اند. این‌ها مردمانی از افریقا، شرق میانه و جنوب آسیا اند که با قبول خطر مرگ، این مسیر را برگزیده‌اند.

جنگ در این کشورها بحران‌های انسانی را به ارمغان آورده است و در دنیایی که جهانی شدن یکی از مشخصه‌های آن است، بحران مهاجرت به این شکل می‌تواند دنیایی را که به دهکده مبدل شده است، به خوبی در ذهن تداعی نماید.

## ارقام سرسام‌آور پناهجویان

دیدن سیل مهاجرینی که با عبور از مدیترانه و قبول خطر مرگ خود را به قارۀ اروپا می‌رسانند، واقعا شگفت‌آور است. در گذشته تعداد مهاجرینی که سرحدات را به امید رسیدن به اروپای غربی به صورت غیرقانونی عبور می‌کردند، کم بود؛ اما در سال 2011 هزاران پناهندۀ تونسی با عبور از مدیترانه، خود را به جزیرۀ "لامپیدوسا" در یونان رسانیدند. این کار به دنبال قیام مشهور به بهار عربی در این کشور صورت گرفت؛ اما موج جدید مهاجرت از سوریه، کشورهای افریقایی و افغانستان، ریکاردهای قبلی را شکست.

بنا به تخمین سازمان بین المللی مهاجرت یا IOM در 9 ماه اول سال 2015 تعداد مهاجرینی که از طریق دریا خود را به اروپا رسانیده‌اند 464 هزار نفر است، اما این تعداد شامل بخشی از مهاجرینی نیست که ترجیح داده‌اند ثبت نام نکنند و با توجه به اینکه هر روز هزاران مهاجر جدید به جمع مهاجرین قبلی می‌پیوندند، در دقت این آمار باید شک کرد.[۷] ادارۀ نظارت بر مرزهای اروپا یا Frontex می‌گوید که از ماه جنوری تا اگست، بیش از 500 هزار مهاجر مرزهای اروپا را عبور کرده‌اند. در این میان بین 3 تا 4 هزار نفر نیز در حوادث مختلف، به خصوص غرق شدن قایق‌های فرسوده، کشته شده‌اند.[۸]

در میان این مهاجرین، بیشتر شان اتباع سوریه اند که از جنگ خونین این کشور فرار کرده‌اند و 39 در صد از مجموع مهاجرین را تشکیل می‌دهند. افغان‌ها که به خاطر ترس از جنگ دوامدار در این کشور، راه فرار به سوی اروپا را در پیش گرفته اند، 11 درصد این مهاجرین را تشکیل می‌دهند و مهاجرین اریتره با 7 درصد در قطار سوم اند. باقی مهاجرین از کشورهای عراق، نایجریا، پاکستان، سومالیا وسودان اند[۹].

در برابر این سیل عظیم از مهاجرت، کشورهای اروپایی تدابیر متفاوتی در پیش گرفته اند. به عنوان مثال، مجارستان مرز خود را با سیم خاردار بسته است، اما پولیس مرزی در مقدونیه و بریتانیا با توسل به زور مانع ورود مهاجران می‌شوند؛ اما در عمل بستن مرزها مشکلی را حل نکرده و مانع ورود پناهجویان به اروپا نشده است.

---

[7] See online; Europe's Migration Crisis; by Council on Foreign Relations: http://www.cfr.org/migration/europes-migration-crisis/p32874

[8] See online: http://www.khabaronline.ir/detail/471743/World/europe

[9] ماخذ قبلی

## آلمان مقصد اکثر پناهجویان

طبق مقرارات مهاجرت اروپا، مهاجر زمانی که وارد نخستین کشور اتحادیهٔ اروپا می‌شود، باید ثبت نام شود؛ اما مهاجرینی که به اروپا می‌رسند، قصد ماندن در کشورهای اولی را ندارند. کشورهای یونان و ایتالیا از جمله کشورهای به شدت آسیب‌دیده از بحران اقتصادی در اروپا اند و همین دو کشور نیز مسیر ورود صدها هزار پناهجو از طریق مدیترانه به اروپا می‌باشند که بیشتر از ترکیه می‌آیند و مقصد نهایی اکثریت نیز آلمان است. به عبارهٔ دیگر پناهجویان از قبل کشوری را که باید در آن اقامت کنند، انتخاب کرده اند.

از طرف دیگر بعضی از کشورهای اروپایی نیز در مورد مهاجرین به صورت گزینشی عمل می‌کنند. مذهب پناهجویان یکی از دغدغه‌های کشورهای اروپایی است. در گذشته اگر احزاب دست راستی افراطی مخالف با اقامت پناهجویان از کشورهای اسلامی در کشورهای شان بودند، اکنون دولتمردان این کشورها نیز نگرانی مشابه را عنوان کرده‌اند، به گونهٔ مثال، سلواکیا و قبرس اعلام داشت که فقط مسیحیان سوری را می‌پذیرند و مسلمانان را نخواهند پذیرفت[۱۰]. کشور لهستان مهاجرین مسلمان را خطری برای ارزش‌های مسیحی خوانده است.

## نیاز به کارگر ارزان

به صورت کلی کشورهای اروپایی به دلیل کاهش رشد جمعیت و بلند رفتن متوسط سن اتباع شان، نیاز به قوای کار جوان و ارزان دارند. طبق آمارها میزان رشد جمعیت در آلمان در چند سال اخیر نزدیک به صفر بوده است[۱۱] حتی کشور اروپایی فقیرتر چون یونان نیز به کاهش جمعیت مواجه است. بنابراین آمدن تعداد کثیری از مهاجران که توقع زیادی هم از دولت ندارند، در طولانی‌مدت می‌تواند به نفع کشورهای مهاجرپذیر، باشند.

در میان مهاجران سوری تعداد زیادی از آنان تحصیل کرده و متخصص اند که برای کشورهای اروپایی سرمایهٔ انسانی محسوب می‌شود، اما در شرایط فعلی که اروپا هنوز با بحران اقتصادی دست وپنجه نرم می‌کند و در بسیاری از کشورهای اروپایی نرخ بی‌کاری به شدت بالاست، تدارک کار برای این تعداد مهاجر کاری دشوار و حتی ناممکن است به خصوص که مشکل بیگانگی با زبان، محیط و فرهنگ را نیز بر آن علاوه کنیم.

[10] See online: http://foreignpolicy.com/2015/08/19/slovakia-to-eu-well-take-migrants-if-theyre-christians/

[11] See online: http://ec.europa.eu/economy_finance/publications/european_economy/2014/pdf/ee8_en.pdf

## مشکل فرهنگی

یکی از نگرانی‌های اصلی مردم کشورهای اروپایی از موج مهاجرت به کشورهای شان، تقابل فرهنگی با مهاجران است.[۱۲] امروز تعدادی از مسلمانان اروپایی در صف گروه "دولت اسلامی" یا داعش در سوریه می‌جنگند. جوانان مسلمان در فرانسه و بریتانیا در سال‌های 2011 و 2013 بارها علیه دولت دست به تظاهرات خشونت‌بار زدند. این مسئله به خوبی روشن می‌سازد که مهاجران مسلمان در اروپا جذب محیط نشده‌اند و در آنجا خود را بیگانه احساس می‌کنند.

آلمان که مقصد اکثریت عظیمی از این مهاجرین است، در ایجاد یک جامعهٔ چند فرهنگی از مردمانی که در این کشور زندگی می‌کنند، عملا موفقیتی نداشته است. این سخن را خانم انگلا مرکل صدراعظم آلمان در سال 2010 به صراحت بیان داشت. در بسیاری از کشورهای اروپایی مانند بریتانیا، سویس، دنمارک، ایتالیا، و سویدن موضوع مهاجرین به خصوص از جهان سوم، یکی از مسایل مهم مطرح شده توسط اپوزیسیون دولت‌هاست.

برعکس مهاجرین در ایالات متحدهٔ امریکا و کانادا که جذب جامعه می‌شوند، پناهجویان جهان سوم در کشورهای اروپایی کلتور و ارزش‌های کشور اصلی خود را حفظ می‌کنند.

## مهاجرین افغان در اروپا

همانگونه که اشاره شد، در موج جدید از مهاجرت، افغان‌ها در قطار دوم اند که تعداد دقیق آنان مشخص نیست، اما تعداد افغان‌هایی را که در موج جدید کوچ به سوی اروپا خود را به آنجا رسانیده‌اند، حدود 120 تا 130 هزار تن تخمین می‌شوند[۱۳].

هزینهٔ سفر برای هر مهاجر به صورت اوسط به بیش از ده هزار دالر می‌رسد که نیمی از آن فقط هزینهٔ رسیدن به ترکیه و نیم دیگر نیز شامل مصارف عبور از مدیترانه و سایر هزینه‌هاست. به همین دلیل، مهاجرین افغان تا کنون بین یک ملیارد و 200 تا یک ملیارد و 300 ملیون دالر برای سفر به اروپا پرداخته اند.

تقریبا تمام مهاجرین افغان که به اروپا می‌روند مدعی اند که حداقل یکی از اعضای خانوادهٔ شان توسط طالبان کشته شده‌اند. ساختن اسناد جعلی که نشان می‌دهد شخص مورد تهدید طالبان قرار گرفته است، در کابل رونق دارد. بعد از وقایع کندز، بهانهٔ جنگ کندز نیز به بهانه‌های دیگر افزوده شده است.

---

[12] See online; Cultural Effects of Migration - The European Immigration Debate: http://www.globalization101.org/cultural-effects-of-migration/

[13] See online: https://www.tolonews.com/en/afghanistan/22048-120000-afghans-seek-asylum-in-44-countries-unhcr

یک دلیل تشویق مردم به ترک افغانستان در کنار ناامنی‌ها و مشکلات اقتصادی، تجربهٔ 14 سال گذشته است. از سال 2001 به بعد که حکومت طالبان سرنگون شد، تعداد زیادی از افغان‌ها که سال‌ها را در اروپا سپری کرده بودند، به افغانستان بازگشتند و با وجود اینکه تعداد زیادی از این افراد تحصیلات و تخصصی هم نداشتند، فقط به این دلیل که ازخارج بازگشته و به زبان خارجی بلد بودند، فرصت‌های شغلی خوب به دست آوردند. این تجربه موجب شده تا بسیاری از جوانانی که امروز راه اروپا را در پیش می‌گیرند، فکر کنند که رفتن به اروپا به آن‌ها پرستیژ می‌بخشد و اگر احیانا روزی مجبور به بازگشت به کشور شوند، وضع بهتری در کشور خواهند داشت.

اما حکومت آلمان اعلام نموده که به مهاجرین سوریه حق اولیت خواهد داد، اما در افغانستان وضع زیاد بد نیست؛ بنابراین مهاجرین افغان را به کشور شان باز خواهند گردانید[14].

یک دلیل این تصمیم آلمان می‌تواند این باشد که مهاجرین افغان کارگران فنی و آموزش دیده نیستند. جنگ طولانی در افغانستان، نسلی بی‌سواد و یا حداقل کم‌سواد را بار آورده است که به آسانی نخواهند توانست در بازار کار آلمان جذب شوند. آموزش آنان به زمان طولانی و هزینه نیاز خواهد داشت درحالیکه در میان سوری‌ها افراد متخصص زیاد است.

با توجه به بحران اقتصادی و بیکاری در اروپا، برای این دسته از افغان‌ها یافتن کار دشوار است و ماندن شان در کشورهای اروپایی نیز می‌تواند بار اقتصادی بدوش این کشورها باشد. از جانب دیگر بازگشت بیش از صد هزار افغان که با قبول خطر مرگ خود را به اروپا رسانیده‌اند، نیز برای کشورهای اروپایی آسان نیست.

پایان

**ارتباط با ما:**

ایمیل: info@csrskabul.com csrskabul@gmail.com

وب سایت: www.csrskabul.com - www.csrskabul.net

شمارهٔ تماس دفتر: 784089590 (+93)

**ارتباط با مسؤولین:**

دکتور عبدالباقي امین، رئیس مرکز مطالعات استراتژیک ومنطقوی: (+93) 789316120 abdulbaqi123@hotmail.com

داکتر وحیدالله مصلح، معاون مرکز مطالعات استراتژیک ومنطقوی: (+93) 747575741 drwahidm@gmail.com

حکمت الله ځلاند، مسؤول تحقیقات و نشرات: (+93) 775454048 hekmat.zaland@gmail.com

**یادآوری:** لطفا نظرات و پیشنهادات خود را جهت بهبود مطالب این نشریه به ما ارسال دارید.

[14] See online: http://www.dw.com/ps/%D8%A2%D9%84%D9%85%D8%A7%D9%86-%DA%89%DB%90%D8%B1-%D8%A7%D9%81%D8%BA%D8%A7%D9%86-%D9%85%D9%87%D8%A7%D8%AC%D8%B1-%D8%AF-%D9%85%D9%86%D9%84%D9%88-%D9%86%D9%87-%D8%AF%D9%8A/a-18812375?maca=pas-CB_Tolonews_Pas_migrationquest-17541-html-cb